

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library


## لیکي پوهه:

**سرلیک:** روسی اېنګور
**لیکوال:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتی ډیزان:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۲۰
**چاپ نېټه:** تله / کال ۱۴۰۸
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

ketabton.com - The Digital Library


## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښنتی........................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم........................................................ ۲
لیکي پوهه:......................................................... ۳
لړلیک ......................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید).................................................. ٥
د یادښتونو له پاره.................................................. ۷
داستان.......................................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لیسټ................................................. ٦۳
د کار لاندې کتابونو لیست ................................................. ٦۹
د وخت او امکان په صورت کې................................................ ۷۰
د پخښنتی ځټ ................................................. ۷۱

ketabton.com - The Digital Library


## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ إِجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل ناول چې کیسه یې په مزار- شریف ښار کې پیل شوې، بیا کابل، وروسته بهر ته غزېدلی او اوس په تاشکند (تاشکنت) ښار کې روانه ده ولیکم او د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.
زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، او نه باید اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ټولنې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

ketabton.com - The Digital Library


**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د پښتنۍ انځور د انټرنټ څخه اخیستل شوی دی.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: 0093799376998

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

ketabton.com - The Digital Library
روسی ابنگور

................

## د یادښتونو له پاره

۱- ......................................................................

۲- ......................................................................

۳- ......................................................................

۴- ......................................................................

۵- ......................................................................

۶- .....................................................................

۷- ......................................................................

۸- ......................................................................

۹- .....................................................................

۱۰- ...................................................................

ketabton.com - The Digital Library


**داستان**

علي د مزار شريف ښار  په يوې سيمې کې، دې نړۍ ته سترګې وغوړوې.

د هغه کورنۍ د ډېر پخوا نه، په هغې سيمې کې اوسېدل.

هغه دوه ورونه او درې خويندې درلودې.

د هغه پلار د وخت په حکومت کې دنده درلوده او د مامور په توګه (حيث) يې کار کاوه.

مور يې هم په نږدې ښوونځي کې ښوونکې وه.

هغوي به دواړه سهار وختي له کوره وتل او خپلو دندو ته به تلل.

مور به يې تر غرمې پورې په ښوونځی کې  درس ورکاوه، دولس بجې به له ښوونخي نه رخصتېده او په پښو به کور ته تله.

ښوونځی هم د هغوي کور نه، دومره لرې نه وه.

پوره پنځلس دکيکې لاره وه.

پلار به يې هم مازديګر څلور بجې له دندې رخصتېده او پر بايسکل به يې ځان کور ته رساوه.

د هغه ماشومان لکه د نورو کسانو په شان لوېدل.

ژوند د کيسو نه ډک روان وو.

علي په کوشنيوالي کې ډېر نامنونی (شوخ) و.

هغه به چرګانو په سې کوم چې يې مور ساتلي و، منډې وهې.

ketabton.com - The Digital Library


هغوی به یې له یوه ځای څخه بل ځای ته زغلول.

کوم یو به یې چې په لاس ورغی، هغه به یې د نورو سره په جنګ اچاوه.

د کور چرګان یو د بل سره بلد او هغوی په خپلو مینځونو کې یې جنګ نه کاوه، بیا به علي لرګی واخیست او هغوی به یې وهل.

مګر نورو ورونو او خویندو به یې هغه منع کاوه او هغه ته به یې ویل:

دا ستا کار ډېره ګنا لري.

علي به ښه ویل او وروسته به یې بیا پیل کاوه.

د کور نور غړي د هغه سره په تنګ کېدل.

کله نا کله به د باندې واته او خپلو همزولو سره به یې لوبې کوې.

د هغوي په سیمې کې وړکتون، نه وه که نه پلار او مور یې غوښتل چې هغه په کې شامل کړي.

علي لږ لوی شو او شپږ کلنی ته ورسېد.

مور یې هغه په کوم ښوونځي کې چې یې کار کاوه داخل (شامل) کړ.

هغه به یې هر سهار له ځانه سره اوړ (بوته) بیا به یې بېرته له ځانه سره کور ته راوړ.

هغه پوره شپږ کاله الته ښوونځي ولوست او بیا فارغ شو.

ketabton.com - The Digital Library


مور یې هغه په لېسه کې ګډ (شامل) کوم چې د هغوی کور نه لرې شتون درلود.

هغه به هر سهار وختی پاڅېد، مخ او لاس پرېمینځو نه وروسته به یې چای څښنه کوم چې به یې مور سهار وختی په ترموز کې اچولی و.

بیا به یې کالي بدلول، وروسته به یې خپل مهال ویش سره کتابونه او کتابچې په بکس کې ایښودې، بیا به یې بکس شا ته اچاوه، بوټان به یې په پښو کول او انګړ نه به واته.

الته به نورو ملګرو یې هغه ته انتظار کاوه تر څو یو ځای ښوونځي ته لاړ شي.

هغه به د خپل ملګرو سره ته او راته.

وختونه تېر شوو.

هغه د لېسې نه و وت (فارغ شو) .

بیا به یې په کور کې سبقونه ویل تر څو د پوهنتون کانکور ته چمتو شي.

هغه به د خپل نږدې ملګرو سره په خپل او یاهم د نورو ملګرو سره د هغوی په کورونو کې سبق ویل.

څو میاشتې تېرې شوې.

هغه د کانکور آزموینې ته چمتو شو.

د هغه مینه د انجنیرۍ سره وه.

ketabton.com - The Digital Library


پلار او مور به یې ویل:

ته باید په راتلونکي کې ډاکټر شې، مګر هغه به د خپل پلار او مور خبرې ردوې او ویل به یې:

زه غواړم چې تکړه انجنیر شم خپلې خاورې او هېواد ته خدمت وکړم.

څه موده نوره هم تېره شوه، د کانکور نتایج اعلان شوو.

دا خبر د راډیو له لارې خپور شو.

هغه سهار وختي خپل ښوونځی ته لاړ چېرې چې یې نتایج د ادارې په ښیښنو کې زړول شوي وو.

البته نور کسان هم د هغه نه مخکې رسېدلي او د نومونو په لوستلو بوخت وو.

هغه هم ځان نږدې او د لستونو په کتلو یې پیل کړ.

لږ ځنډ وروسته هغه خپل نوم د انجنیرۍ پوهنځي د کامیابانو په لسټ کې و موم، هغه بیا په ځیر سره و کوت تر څو بل کس نه اوسي، د خپل پلار نوم لوستو نه وروسته ډېر خوشحاله شو.

څو نور ملګري هم انجنیرۍ پوهنځي ته کامیابه شوي وو.

بیا هغه د خپل بل ملګري سره چې زراعت پوهنځي ته بریالی شوی وه، کور ته لاړ.

هغه ډېر خوښ او په لاره کې یې د خپل ملګري سره ټوکې ټکالې کوې.

لږ ځنډ وروسته هغه کور ته ورسېد، دروازه یې وټکوه.

ketabton.com - The Digital Library


ورور يې دروازې ته راغی او هغه يې خلاصه کړه.

علي ته يې سلام واچاوه او د هغه نه يې وپوښتل:

څنګه شوه نتيجه؟

هغه و ويل:

د الله احسان دی، خپل خوښ پوهنځي ته بريالی شوی يم.

ورور يې ډېر خوشحاله او هغه ته يې مبارکي و ويل.

علي هم د هغه نه مننه وکړه.

بيا هغه انګړ ته د ننه شو، نور ورونو او خويندو هم هغه ته مبارکي و ويله.

ماسپښين مور يې هم ستړې ستومانه کور ته راغله، هغه خپلې مور مخې ته لاړ او سلام يې ورکړ.

مور يې وپوښتل:

څنګه شوې؟

علي و ويل:

خپلې خوښې څانګې ته بريالی شوی يم.

مور يې ډېره خوشحاله او هغه يې پر سر مچ کړ.

بيا يې و ويل:

شکر خدايه!

ketabton.com - The Digital Library


زوی لاس و نیوه او دواړه کوټې ته ننوتل.

الته پر یوې توشکې کښېناستل.

په دې وخت کې لور یې هم کوټې ته د ننه شوه.

مور یې و ویل:

د چای ترموز او پیالې راوړه !

لور یې ترموز او پیالې راوړې، بیا یې په پیالو کې چای واچاوه.

شیرینې دانې هم هغوی ته ور نږدې کړ.

ځان ته یې هم په پیالې کې چای واچاوه.

ټولو پر چای څښلو پیل کړ.

غورې او ټکالې پیل شوې.

د خوشحالۍ شېبې وې.

بیا علي پاڅېد او ټلوېزیون یې روښانه کړ.

په ټلوېزیون کې خبرونه وو.

د شخړو(جنګونو) راپورونه وو.

داسې برنامې د چا نه خوښېدې.

په وطن کې همدا حال و.

بیا هغه ټلوېزیون ببرته مړ او پر خپل ځای کښېناست.

څه موده لا نه وه تېره شوې، چې د حوېلۍ دروازه و ټکېده.

ketabton.com - The Digital Library


د علي کوشنی ورور دروازې ته لاړ.

دروازه يې خلاصه کړه.

د دروازې تر څنګ (شا) دعلي ملګرى ولاړ و.

هغه ته يې سلام ورکړ.

د علي ملګرى هغه سلام ته وعليکم و ويل، بيا يې هغه نه و پوښتل:

علي کور کې دى؟

د علي ورور و ويل:

هو!

هغه په کور کې دى.

بيا يې و ويل:

راځه کور ته!

چاى تيار دى.

د علي ملګري و ويل:

مننه کوم، کور آباد.

هغه ته و وايه چې زه راغلى يم.

د علي کوشني ورور و ويل:

سمه ده!

زه به ورته غږ کړم.

ketabton.com - The Digital Library


بیا هغه انګړ ته د ننه او کوټې ته ننوت.

علي ته يې و ويل:

ستا ملګری راغلی دی.

علي له ځایه پاڅېد، بوټان يې په پښو کړل او دروازې خوا روان شو.

مور يې پرې غږ کړ.

ماښام نږدې دی، چېرته لرې لاړ نه شې!

علي و ويل:

سمه ده مورې!

بیا هغه دروازه خلاصه او د خپل ملګري سره يې روغبړ وکړ.

ملګري يې هغه ته د بریا موبارکي و ويل.

علي هم د هغه نه مننه وکړه او ورته يې د کور د ننوتو بلنه ورکړه.

ملګري يې و ويل:

مننه کوم.

اوس دستي مې چای و څښه.

راځه چې لږ چکر و وهو.

علي دروازه پورې او بیا هغوی دواړه روان شوو.

ketabton.com - The Digital Library


هغوي لمړی بازار ته ورسېدل، بیا یې و غوښتل پارک خوا ته لاړ شي.

په لاره او کوڅو کې به عسکر ګرځېدل.

هغوي به د ځوانانو نه د عسکرۍ اسنادو پوښتنې کوې.

علي تر اوسه د پوهنتون کارټ نه و اخیستی، هغه په تازګی سره پوهنتون ته پېژاندل شوی و، مګر د ښوونځي په کارټ کې یې د عسکرۍ د پاره وخت درلود.

د علي ملګري د ښوونځي کارټ درلود او هغه تر اوسه نه وه فارغ شوی.

لږ مزل وروسته، هغوی په تلاشۍ برابر شوو.

یوه عسکر پرې غږ کړل:

چېرته بې غمه چکر وهئ؟

لکه چې عسکري مو نه خوښیږي؟

ځانونه خو مو ګوښه کړل.

علي و ویل:

نه بابا!

تر اوسه د عسکرۍ له پاره د تعجیل کارټونه لرو.

بیا عسکر و ویل:

کتلی شم تاسو کارټونه و ګورم؟

ketabton.com - The Digital Library


هغوی و ویل:

هو!

دا دی مهرباني وکړئ!

عسکر په ځیر سره کارتونه و کتل او علي ته یې و ویل:

ستا کارټ درې میاشتې وخت لري.

که غواړې د ځان سره دې عسکر کړم.

زه په جلب او احضار کې عسکر یم.

ته به زما په شان هر سهار وختي په کوڅوکې ګرځې او ځوانان به د عسکرۍ له پاره نیسې.

علي و ویل:

مننه کوم.

زه پوهنتون ته بریالی شوی یم.

غواړم د فارغېدو نه وروسته، عسکري وکړم.

بیا عسکر پوښتنه وکړه:

کوم پوهنځي ته بریالی شوی یې؟

علي و ویل:

انجینري پوهنځي ته.

بیا عسکر و ویل:

ketabton.com - The Digital Library


د مور شيدې دې شه.

بيا يې د هغه کارت بېرته ورکړ.

هغوی هم د عسکر نه خدای پاماني واخيسته او خپلې موخې پسې روان شوو.

مازديګر شو.

لمر په غر غره شو.

علي خپل ملګري ته و ويل:

هوا مخ په تياره کېدو ده.

درځه چې کورونو ته لاړ شوو.

ملګري يې و منه او هغوی بېرته راوګرځېدل.

اوا نوره هم تياره شوه.

هغوي کورونو ته نږدې شوو.

بيا علي خپل ملګري نه خدای پاماني واخيسته او خپل کور خوا روان شو.

هغه کور ته ورسېد.

د کور در وازه خلاصه وه.

هغه درواز بېرته او کور ته د ننه شو.

بيا يې دروازه وتړه او پرناست خونې يې مخه کړه.

ketabton.com - The Digital Library


علي کوټې ته د ننه او پر پلار یې سترګې و لګېدې.

ژر یې هغه ته سلام ور کړ.

پلار یې د هغه سلام ته وعلیکم و ویل او بیا یې هغه ته د پوهنتون بریالیتوب مبارکي و ویله.

علي هم د هغه نه مننه وکړه.

بیا علي پر یوې توشکې کښېناست.

خبرې اترې پیل شوې.

مجلس ښه تود و.

ماسخوتن نږدې شو.

برېښنا نه وه.

داسې ښکارېده چې مجاهدینو د برېښنا ستنې (پایې) په کومې ولسوالۍ کې نسکوره کړې وي.

د هغوي په کوټې کې الکین لږېدلی و.

د علي مور و ویل:

زه به د شپې ډوډۍ تیاره او تاسو تر هغه لاسونه پرېمنځئ او دسترخوان هم اوار کړئ.

بیا هغه پخلنځي ته لاړه.

ټولو لاسونه پرېمنځل او د سترخوان یې اوار کړ.

د علي خور ډوډۍ له ټکرۍ واخیسته او پر دستر خان یې کښېښوده.

ketabton.com - The Digital Library


په دې وخت کې مور یې د ننه شوه او لورګانو ته یې و ویل:

راځئ کاسې دروړئ!

انجونې پاڅېدې، کاسې یې راوړې او پر دسترخوان یې کېښېښودې.

بیا سره په کاسو و وېشل شوه او پر خوراک یې پیل کړ.

څه ځنډ وروسته ډوډۍ و خوړل شوه او دسترخوان ټول شو.

بیا چای هم ورسېد.

دا ځل علي په پیالو کې چای واچاوه.

څه وخت نور هم ویښ و.

د برېښنا څرک نه لرېده.

د علي پلار و ویل:

تاسو پوهېږئ چې تیل ګران او په نوبت سره اخیستل کېږي، لارې هم بندې و جګړې روانې دي، ښه به وي چې شپه جوړه او نورې کیسې سبا ته پرېږدو.

ټولو ومنه او هر کس خپلو خونو خوا روان او بیده شوو.

سهار وختي د نورو ورځو په شان پا څېدل.

چای څښلو نه وروسته هرڅوک په خپل کار پسې روان شوو.

علي هم د نوم لیکنې د پاره، پوهنتون ته لاړ.

الته یې نوم لیکنه وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

**روسی اېنګور**

**..................**

دوې ورځې وروسته يې د پوهنتون کارټ واخيست او ډېر خوشحاله شو.

سهار به وختي پوهنتون ته، ته او له غرمې نه وروسته به کور ته، راته.

هغه ډېر خوشحاله و، ځکه د ښوونځي کارټ د تعجل وخت يې هم مخ پر پوره کېدو، وه.

هغه بيا اړ وه چې عسکري وکړي.

د عسکرۍ جبري او معياد يې هم روښانه نه و، ډېرو به تر ځلورو کلونو عسکري کوې.

بيا به دوې کاله وروسته به د احتياط دورې ته تلل.

په هغه وخت کې هېچا نه غوښتل چې عسکري ته لاړ شي.

په جبهو کې به ډېرى ځوانان مړه کېدل.

د هېواد برخه ليک هم روښانه نه وه.

علي به په سبقونو کې کوښښ کاوه تر څو بريالی شي.

هغه يو سمستر په برياليتوب سره بشپړ کړ.

څو ورځې پوهنتون کې دمه راغله.

علي هم په کور کې څه سبق ويل.

هغه به ډېر لږ له کور نه واته او د وتو نه مخکې به يې خپل کارټ کاته تر څو د تلاشۍ لاس ته ور نه شي.

ketabton.com - The Digital Library


لس ورځې تېرې شوې.

دمه خلاصه او پوهنتون بیا پیل شو.

علي هم د خپلو نویو ملګرو سره پوهنتون ته لاړ.

د انجینرۍ پوهنځي دروازې خوا ته اعلان ټومبول شوی و، په اعلان کې لیکل شوي و داچې:

د سوسیالستي هېوادنو بورسونه راغلي دي.

څوک چې لوړې نمبرې لري کولای شي ادارې ته د نوم لیکنې د پاره راشي.

علي ډېر خوشحاله شو او په چابکۍ سره ادارې ته ننوت.

الته یې د اداري مسول نه د اعلان په هکله پوښتنه وکړه.

اداري مدیر و ویل:

هو!

اعلان سم دی، غواړې چې په بهر کې زده کړې وکړې؟

علي و ویل:

هو!

دلته خو هسې غوبل روان دی.

هرې خوا لارې بندې، جګړه روانه او برېښنا هم نه شته.

مدیر هم خپل سر وخوزاوه او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library


هو!

بیا یې و ویل:

لمړی ستا نمرې وګورم چې د بورس وړ دي که نه؟

هغه نمرې وکتې او علي د بورس وړ وه.

بیا یې هغه ته و ویل:

یوه عریضه ریاست ته ولیکه او د نمرو یوه کاپۍ ورسره ضمیمه کړه، بیا د ریس صاحب نه امضا واخله.

د امضا نه وروسته، سند ما ته راوړه چې د نور سره یې بشپړ کړم.

هغه ژر د نمرو پاڼه واخیسته او فوتوکاپۍ ته لاړ.

الته یې پاڼه کاپي، بیا یې عریضه هم په یوه عریضه نویس باندې ولیکه او څه ځنډ وروسته د پو هنځي ریس دفتر ته د ننه د عریضې پاڼه او د نمروو اصل او کاپي یې د هغه پر میز کښېښنوده او خپله لږ لرې ودرېد.

ریس لمړی د نمرو پاڼه ولیده او مسکی شو، بیا یې عریضه ولوسته او ترې لاندې یې د بورس امر ورکړ.

علي ریس ته نږدې شو.

ریس و ویل:

ما خو ستا عریضه ومنه،

ته هم ژمنه کوې چې خپل سبقونه ولولې، هېواد او نوي نسل ته به خدمت کوې.

ketabton.com - The Digital Library


علي و ويل:

زه غواړم چې تکړه انجنير شم، خپلې خاورې او وطن ته به خدمت وکړم.

بيا ريس د هغه عريضه او نورې پاڼې ورکړې، هغه ته يې و ويل:

دا ټولې پاڼې اداري مدير ته وسپاره، د هغه نه فورمې واخله او ډکولو نه وروسته يې بېرته هغه ته وسپاره.

علي مننه وکړه او ويې ويل:

سمه ده ريس صيب!

بيا يې پاڼې واخيستې او اداري مدير ته يې وېوړې.

اداري مدير هم د هغه نه پاڼې واخيستې او هغه ته يې فورمې ورکړې.

هغه ته يې و ويل:

دا فورمې ډکې او درې ورځې وروسته يې ما ته وسپاره.

علي مننه وکړه او ويې ويل:

سمه ده آمر صيب!

بيا يې فورمې واخيستې او په کتاب کې يې د تسليمېدو امضا هم وکړه.

هغه د آمريت نه ووت او کور خوا ته روان شو.

څه ځنډ وروسته کور ته ورسېد.

ketabton.com - The Digital Library


هغه ډېر خوشحاله ښکارېده.

هغه خپلو ورونو او خویندو ته و ویل:

پوهېږئ چې زه ولې نن خوشحاله یم؟

هغوي و ویل:

نه!

ته ووایه چې ولې خوشحاله یې؟

بیا علي و ویل:

نن مې په بورس کې ګډون وکړ.

نورې زده کړې به ، په بهر کې وکړم.

د دې خبر په اورېدو سره، ټول خوشحاله او هغه ته یې مبارکي و ویله.

علي هم د خپلو ورونو او خویندو نه مننه وکړه.

ماسپښین یې فور مې واخیستې او د ډکولو د پاره یې د سیمې وکیل ته وپوړې.

وکیل علي ته و ویل:

لمړی څه چې ستا پورې اړه لري ډکه بیا به یې زه د ستاسو د اوسېدو په سیمې کې تصدیق کړم.

علي و ویل:

سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library


بیا هغه له جبه قلم راواخیست او خپل اړوند ځایونه یې ډک کړل.

بیا یې فورمې وکیل ته ورکړې.

هغه د امضا او ټاپې نه وروسته فورمې هغه ته بېرته ورکړې او هغه ته یې و ویل:

اوس د رخصتۍ وخت نږدې دی.

سبا سهار، فورمې ناحې ته یوسه چې زما د برحالۍ تصدیق وکړي.

هغه مننه وکړه، بیا یې فورمې واخیستې او کور خوا روان شو.

دهغه مور او پلار هم کور ته رسېدلي وو.

کور ته د ننوتو نه وروسته مور او پلار ته یې سلام واچاوه.

هغوی لمړی د هغه سلام ته وعلیکم و ویل او بیا یې هغه ته د بورس مبارکي و ویله.

شپې ټوله کورنۍ خوشحاله وو.

شپه تېره بیا سهار شو.

هر څوک په خپلو دندو پسې لاړل.

علي هم فورمې واخیستې او ناحې ته لاړ.

الته یې د وکیل د برحالۍ تصدیق او مهر واخیست، بیا پوهنتون ته لاړ.

فورمې یې اداري آمر ته ورکړې.

ketabton.com - The Digital Library


هغه په ځير سره فورمې و کتې او هغه يې په يوې دوسې کې کښېښودې.

بيا يې هغه ته نوې فورمې لکه د صحي تصديق او پاسپورټ فورمې ورکړې، بيا يې هغه ته و ويل:

دا فورمې هم ډکې بيا يې راوړه چې اجراات پرې وشي.

علي و ويل:

سمه ده!

زه به فورمې ژر خلاصې او تا ته بې دروسپارم.

اداري آمر و ويل:

سمه ده!

بيا علي فورمې واخيستې او کور ته روان شو.

درې ورځې فورمو ډکولو پسې وګرځېد.

په څلورمه ورځ يې فورمې ډکې بيا يې اداري آمر ته ورسپارې.

اداري آمر ورته و ويل:

کله ناکله دلته پوښتنه کوه.

مونږ به ستا د تګ وخت وټاکو، بيا به ته بهر ته لاړ شې.

پاسپورټ، ويزه او نور اسناد به تا ته په هوايی ډګر کې درکړل شي.

علي مننه وکړه او د ادارې نه و وت.

ketabton.com - The Digital Library


.................

هغه به یوه ورځ وروسته د پوښتني د پاره آمریت ته، ته.

څه وخت تیر شو.

یوه ورځ هغه چې ډېر ستړی و، په کور کې یې د بامونو اخیر کړی و، د غولي په یوې برخې کې د انګورو تاک څپرې لاندې ناست او چای یې څښه، چې دروازه وټکېده.

هغه د چای پیاله واخیسته او دروازې ته لاړ.

دروازه یې خلاصه کړه.

د دروازې تر شا د هغه یو ملګری ولاړ و.

علي د هغه سره روغبړ وکړل او بیا یې د هغه نه وغوښتل چې د چای څښلو د پاره کور ته راشي.

ملګري یې مننه وکړه او علي ته یې و ویل:

پوهنتون ته تللی وې او که نه؟

علي و ویل:

هو!

دوې ورځې مخکې تللی وم.

بیا هغه و پوښتل:

د تګ څه پروګرام وه او که نه؟

علي و ویل:

نه!

ketabton.com - The Digital Library


اداري مدير و ويل چې:

يوه وروز وروسته خبر اخله!

په دې هفتې کې کېدای شي څه زده کړيان بهر ته لاړ شي.

ملګري يې و ويل:

زه پرون تللی وم.

د څه کسانو نومونه چې بهر ته د زده کړې د پاره تلل، په اعلان کې وو.

علي و پوښتل:

تا نومونه وکتل؟

هغه و ويل:

هو!

ما د خپل نوم په کې وکوته، مګر زما نوم په کې نه وه.

بيا علي و ويل، زما نوم؟

هغه و ويل:

ستا نوم ته مې پام نه وه.

که وخت لرې ولاړه شه او لسټ وګوره.

علي و ويل:

اوس خو ناوخته ده.

ketabton.com - The Digital Library


کیدای شي پوهنتون هم بند وي.

له بلې خوا، زه خو اوس ډېر ستړی یم.

نن مې د بامونو اخېر درلود.

ملګري یې و ویل:

کاشکې یې ما ته خبر راکړی وای، ما به در سره مرسته کړې وه.

علي و ویل:

ما د تاسو کور نه وه لیدلی، که نه هرو مرو به مې خبر در کړای وای.

ملګري یې و ویل:

ښه!

زه اوس کور ته ځم، ته سبا له خیره لاړ او خپل نوم دې وګوره.

بیا ملګري یې د علي نه خدای پاماني واخیسته او خپل کور ته روان شو.

علي هم دروازه وتړه او بېر ته خپل ځای ته ستون شو.

د چایبر نه یې ځانته چای واچاوه او څو پیالې یې نورې هم و څښې.

ماښام شو، بیا د شپې ډوډۍ وخوړل شوه او چایونه سره و وېشل شوو.

علي ډېر ستړی شوی و او د ټولو نه د مخه، خپلې کوټې ته ننوت او خوب ځای یې جوړ کړل.

ketabton.com - The Digital Library


پر توشکې پرېبوت او څادر يې پر ځان کش کړ.

ځو ساړه اوسېلي يې وباسل او ځنډ وروسته بيده شو.

سهار وختي لکه د نورو ورځو په شان له خوبه پاڅېد، مخ اولاسونه يې پرېمنځل او پر خپل ځای کښېناست.

خپله کوچنۍ راډيو يې د الماری څخه راوخيسته او هغه يې روښانه کړه.

بيا يې د سندرو ځای وموند.

راډيو يې خوا ته کښېښوده او بدلو ته يې غوږ و نيو.

ګړۍ وروسته مور يې کوټې ته د ننه شوه او علي ته يې و ويل:

راځه چای تيار دی!

علي و ويل :

سمه ده!

دغه سندره خلاصه شي، درځمه.

مور يې و ويل:

چای سړېږي.

راډيو دې هم له ځانه سره راواخله، نور به يې هم واوري.

علي و ويل:

سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library


بیا علي له خپله ځایه را پاڅېد او راډیو یې هم له ځانه سره راواخیسته.

بیا لویې کوټې ته لاړ چېرې چې هغوی به ټول په کې راټولېدل.

مور یې چای تیار او دسترخوان وغوړول شو.

ټول د دسترخوان شاوخوا راټول او پر چای څښلو پیل شو.

علي خپل چای ژر، ژر و څښه او مور ته یې و ویل:

زه اوس بیا پوهنتون ته ځم.

دعا کوه چې نوم مې په لسټ کې وي.

دلته ژوند ډېر بې خونده دی.

کومه ورځ مې په زور عسکرۍ ته وېنسي.

مور یې ویل:

سمه ده زویه!

زه په هر لمانځه کې تا او د تا نورو ورونو او خویندو ته دعاوې کوم.

علي له ځایه پاڅېد او د مور نه یې مننه وکړه.

بیا هغه خپلې کوټې ته لاړ، جامې یې بدلې او سر یې ګومنز کړ.

څوځل یې ځان په آینې کې ولید بیا د کوټې نه د بانداو په دالان کې یې بوټان په پښو کړل.

دالان نه و وت، لمړی انګړ بیا دروازې ته لاړ.

ketabton.com - The Digital Library


دروازه يې خلاصه بيا يې خپل کوښني ورور ته غږ کړ.

دروازه وتړه!

علي لمړی کوڅې بيا پوخ سړک ته يې ځان ورساوه، الته په يوه ملي بس کې کښېناست او پوهنتون ته لاړ.

څو دکيکې وروسته، بس پوهنتون ته، ورسېد.

علي او څه نور کسان له بسه کوز شوو.

علي ژر، ژر خپل ځان پوهنځي خوا ته ورساوه.

د دروازې په يوې شيشې کې لسټ بند و.

علي لسټ ته ځان نږدې او پر لوستلو يې پيل کړ.

په نونسمه شمېرې کې يې خپل نوم وموند.

هغه ډېر خوشحاله شو.

بيا ادارې ته د ننه شو او مدير ته يې سلام ورکړ.

مدير هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا علي د تګ وخت پوښتنه وکړه.

مدير و ويل:

د دې لسټ کسان د جمعې پر ورځ د کابل اوايی (هوايی) ډګر نه الوتنه لري، بايد ټول کسان د اته بجو نه مخکې ځانونه ورسوي تر څو د الوتو (پرواز) نه پاتې نه شي.

علي و ويل:

ketabton.com - The Digital Library


سمه ده!

بیا علي د مدیر نه خدای پاماني واخیسته او د باندې شو.

ژر، ژر د پوهنتون نه و وت او ښار ته روان شو.

هغه د تګ څه کالي او نور اړین شیان اخیستې و، خو بیا یې طاقت و نه کړ او د کمبوتاتو په سوچ کې شو، هغه څه نور شیان هم واخیستل بیا کور ته روان شو.

کورته رسېدو نه وروسته، خپل بکس یې راواخیست کالي یې ترتیب ( منظم) کړل بیا بکس ته یې قلف (قفل) واچاوه او د کوټې دروازې ته څېرمه یې کښېښود.

هغه حمام ته لاړ، خپل مخ او لاسونه یې پرېمنځل بیا د باندې و وت تر څو خپلو کوڅې ملګرو سره و ویني.

هغه ډېر خوشحاله و، د خوشحالۍ نه ورته ځمکې ځای نه ورکاوه.

هغه تر ناوخته خپلو ملګرو سره په کوڅو کې وګرځېد، ماښام کورته لاړ.

مور او پلار یې هم کورته رسېدلي وو.

علي هم کور ته ځان ورساوه، هغه کور ته د ننه شو، بیا لویې کوټې ته لاړ چېر ته چې هغوي راټولېدل.

کوټې ته د ننه او سلام یې ورکړ.

مور او پلار یې د هغه سلام ته وعلیکم و وایه.

بیا مور یې و پوښتل:

ketabton.com - The Digital Library


لسټ دې ولید؟

هغه و ویل:

هو مورې!

زما نوم په نونسمې شمېرې کې وه.

بیا یې زیاته کړه.

مدیر و ویل:

د لسټ کسان باید کابل ښار  ته ځانونه ورسوي، د جمعې په ورځ الوتنه تر سره کیږي.

مور یې و خندل.

تر جمعې پورې درې ورځې پاتې دي.

پلار یې و ویل:

ښه به دا وي چې علي ته سبا ټکټ واخلو او په الوتکه کې یې کابل ته ولیږو، ځمکني لارې هسې د اطمینان وړ نه دي، کومه پېښه را منځ ته نه شي.

مور یې و ویل:

دوه شپې به چېرې وکړي؟

هغه و ویل:

الته زما د تورۍ کور دی، زه به ورته پته ورکړم.

علي به الته و وسیږی.

ketabton.com - The Digital Library


مور یې و ویل:

سمه ده!

ته ښه پوهېږې.

شپه تېره او سبا شو.

پلار یې علی ته ټکټ واخیست، د شپې یې هغه ته ټکټ ورکړ او سهار وختی یې له خوبه پاڅاوه.

هغه د خپل مور، پلار، ورونو او خویندو سره، خدای پاماني وکړه او اوایی ډګر خوا ته روان شو.

مور یې هم د هغه پسې اوبه وشیندې او هغه ته یې و ویل:

کوم وخت چې خپل ښار ته ورسېدې، مونږ ته خط راولېږه.

علي و ویل:

سمه ده مورې!

علي لمړی کابل او بیا د پلار ترور(توړی) کور ته لاړ.

الته یې دوې شپې وکړې او د جمعي په سهار وختي د کابل نړیوال اوایي ډګر ته ځان ورساوه او بیا د لوې دروازې نه د ننه شو.

د لوې دروازې تر شا یو کس ولاړ او کاغذونه یې په لاس کې وو.

کس و ویل:

وبخښه ځوانه!

ته بهر ته، سفر لرې؟

ketabton.com - The Digital Library


علي و ويل :

هو!

بيا هغه وپوښتل:

پاسپورټ لرې؟

علي و ويل:

نه !

مونږ ته ويل شوي وو چې تاسو ته پاسپورټونه په اوايی ډګر کې د ويزې سره يو ځای درکول کيږي.

کس مسکی شو او و يې پوښتل:

نوم دې څه دی؟

ويې ويل:

زما نوم علي دی.

بيا کس د هغه نوم په کاغذونو کې و موند او هغه ته يې و ويل:

سمه ده!

د ستا او د نورو کسانو پاسپورټونه به د ودانۍ (ترمينل) ننوتو نه مخکې درکړي.

بيا يې علي ته و ويل:

ته مخکې لاړ شه!

ketabton.com - The Digital Library


ښه سفر!

علي مننه وکړه او خپل بکس يې واخيست او د ډګر ودانۍ خوا ته روان شو.

څو دکيکې وروسته هغه ودانۍ ته ورسېد.

ودانۍ مخې ته بل کس ولاړ او پاسپورټونه يې په لاس کې وو.

علي کس ته نږدې او هغه ته يې و ويل:

زه کولای شم خپل پاسپورټ تر لاسه کړم؟

کس و ويل:

نوم دې څه دي؟

هغه و ويل:

نوم مې علي دی.

بيا کس د هغه پاسپورټ وموند، هغه ته يې ورکړ او په ليسټ کې يې د هغه امضا واخيسته.

علي د هغه نه مننه وکړه او بيا يې پوښتنه وکړه:

ويزه او ټکټ د چا سره دي؟

کس و ويل:

ودانۍ ته د ننه شه!

البته بل کس دی، د هغه په لاس کې ويزې او ټکټونه دي، هغه به ستا ويزه او ټکټ درکړي.

ketabton.com - The Digital Library


علي و ویل:

سمه ده!

بیا علي ودانی ته د ننه شو.

مخامخ یو کس ولاړ، ویزې او ټکټونه یې په لاسو کې وو.

هغه علي ته غږ کړ.

ته هم بهرنی الوتنه لرې؟

علي و ویل:

هو صیب!

بیا یې د هغه پاسپورټ ولید او هغه ته یې ټکټ او ویزه ورکړه او له علي یې و غوښتل چې پر څوکی کښېني او د اعلان منتظر شي.

علي و ویل :

سمه ده، مننه کوم!

بیا علي ډګر ته مخامخ پر یوې څوکی کښېناست او خپل بکس یې ځانته نږدې کښېښود.

څو دکیکې وروسته یوه بهرنی الوتکه ډګر کې کښېناسته، کسانو و ویل:

دا زمونږ الوتکه ده.

ketabton.com - The Digital Library


دوې دکيکې وروسته اعلان وشو چې بهر ته د تلو کسان دې خپل بکسونه درېيمې غرفې ته تسليم او خپله دې بېر ته خپلو ځايونو ته ستانه شي.

علي هم خپل بکس را واخيست او درېيمې غرفې ته يې ځان ورساوه.

التہ يې خپل بکس وسپاره او د بکس سند يې له ځانه سره واخيست او په لاسي کځوړه کې يې کېښېښود بيا بېرته خپل ځای ته ستون او پر څوکۍ کښېناست.

بهرنۍ الوتکه ورو، ورو ودانۍ ته نږدې شوه، الوتکه ډېره غټه وه او علي هېڅکله داسې الوتکه په سترګو نه وه ليدلې.

الوتکه د ودانۍ تر څنګ ودرېده، بيا زينه ورته نږدې شوه، د الوتکې مسول کس د الوتکې دروازه خلاصه کړه.

کسانو په کښته کېدو پيل کړ.

لږ ځنډ وروسته کسان خلاص او ټول ودانۍ ته د ننه شوو.

د کسانو بکسونه هم په خاص موټرو کې بار او ودانۍ ته يې د ننه کړ، التہ به هر چا خپل بکس اخيسته او د ودانۍ څخه به وتل.

علي التہ ننداره کوه.

لږ ځنډ وروسته د بکسونو موټر الوتکې ته نيږدې شوو او د بکسونو ايښودلو باندې يې پيل کړ.

بيا اعلان وشو چې د مسکو مسافرين دې ورو، ورو حرکت او الوتکې ته پور ته شي، ګورئ چې لاسي کځوړې او بيکونه مو هېر نه شي.

ketabton.com - The Digital Library


علي هم خپله کڅوړه اوږې ته واچوه او په کتار (لین) کې ودرېد.

کسانو حرکت پیل او یو د بل پسې په زینو کې الوتکه ته د ننه شوو.

البته مسول کس به د هغوی ټکټونه کتل او څوکیو ته به یې لارښونه کوه، همدا راز بل کس مسافرو ته د کڅوړو او بیکونو د کښېښودو ځایونو لارښونه کوه.

څو دکیکې تېرې شوې.

کسان ټول پر خپلو ځایونو کښېناستل.

بیا اعلان خپور شو چې خپل کمربندونه و تړئ.

ډېری کسانو لمړی سفر په الوتکه کې و، نو ځکه د کمربند په تړلو هم نه پوهېدل، بیا مسول کس هرچا ته د کمربند تړلو لاره (میتود) وښود.

لږ ځنډ نه وروسته الوتکه د ځغاستي لیکې ته ځان برابر او له ځمکې پورته شوه.

الوتکه یوه ګړۍ او پنځلس دکیکې وروسته د تاشکند (تاشکنت) اوایي ډګر ته کوزه شوه.

بیا اعلان وشو چې یوازې مسافرین کولای شي له الوتکې کوز شي ،څوک چې تاشکند او نړدې ښارونو مسافریین دي، هغوی دې له خپل بیکونو او کڅوړو سره کوز شي.

د مسکو مسافرین کولای شي د دوو ګړیو د پاره په ودانۍ کې چکر ووهي، ځکه الوتکه د دوو ګړیو د پاره دلته په اوایی ډګر کې د نویو مسافرانو د پاره ستنه کیږي.

ketabton.com - The Digital Library


علي هم د څه نورو کسانونو سره له الوتکې کوز او ودانۍ ته د ننه شو.

بیا الته د انتوریست (بهرنیانو) سالون ته  د ننه او الته په وړیا توګه دوې پیالې چای هم و څښل.

دوې ګړۍ ژر تېرې شوې او بیا بېرته اعلان شو چې د مسکو مسافرین دې الوتکې ته پورته شي.

علي هم د نورو کسانو سره الوتکې ته وخوت او پر خپل ځای کښېناست.

الوتکه ژر ډکه او بیا د الوتکې دروازه وتړل شوه او ځغاستې لیکې ته لاړه او بیا له تاشکند نه د مسکو پر لور واولوته.

څلور ګړۍ وروسته، الوتکه د مسکو ښار په شېرېمېتوا اوایي ډګر کې کښېناسته، کسان د الوتکې نه راسآ د دالان (دهلېز) په ذریعه ودانۍ ته د ننه شوو.

د علي لمړی سفر و، هرڅه ورته نوي ښکارېدل، کسان، څراغونه، ودانۍ، الوتکې، لوحې کومې چې په روسي ژبې لیکل شوېې وې.

علي او نورو زده کړیلانو ته لارښونه وشوه چې د بکسونو تر لاس کولو په خاطر دې ، دوېیم سالون ته لاړ شي.

علي هم د نور کسانو سره دوېیم سالون ته ننوت او خپل بکس یې د ګرځنده تسمې څخه تر لاسه کړ.

بیا لږ بېرته شو، الته څوکۍ د ناستې له پاره ایښودل شوې وې.

ketabton.com - The Digital Library


علي د نورو کسانو سره پر یوې څوکۍ کښېناست او خپل بکس یې مخې ته و دراوه.

څه څنډ وروسته څه لاربښونکي سره د ژباړونکو راغلل کوم چې په لاسونو کې یې لستونه وو، هغوي کسانو ته و ویل:

د هر لسټ کسان دې یوې خوا ودرېږی او بیا دې مسول کس سره لاړ شي، البته به د لاربښود وینا او سپاربښتنو ته غوږ کېږدي.

د علي نوم هم په یوه لسټ کې و ویل شو او د لسټ کسانو ته سپاربښتنه وشوه چې د لاربښود سره ودانۍ (ترمینل) نه د باندې شي.

علي د لیسټ نورو کسانو سره یوه بس ته وختل او یوه ګړۍ وروسته د یوې لیلې ودانۍ ته ورسېدل او البته د لار ښود لاربښوونې سره سم د ننه شوو.

څلور، څلور کسان په کوټو و وېشل شو، هغوی ته لاربښوونه وشوه چې ویده شي، سبا به وختي هغوی پسي مسول کس راشي، بیا به یې ډوډۍ خونې (طعام خانې) لاربښوونه وکړي.

کسانو ټولو شپه جوړه او بیده شوو.

سهار وختي مسول کس راغی او ټول یې د ډوډۍ خونې مسولو کسانو سره ور وپېژندل، بیا هغوی ته د درې وختونو ډوډۍ کوپونونه ور و وېشل.

په ټکټونو کې د درې وختو خوړو ګړۍ په نښه شوې وه.

ketabton.com - The Digital Library


کسان ټول د سهار چای پر څښلو بوخت شوو، بیا مسول کس د ژباړونکي سره ورسېد او هغوی ته یې لارښوونه وکړه تر څو خپلې ګړی (ساعتونه) د مسکو وخت سره برابر کړي.

بیا یې زیاته کړه:

تاسو به درې ورځې او شپې دلته اوسئ، په وخت سره به ډوډۍ ته راځئ، د باندې به نه ګرځئ.

ټولو و ویل:

سمه ده!

مونږ هسې په ژبه نه پوهېږو.

پوره درې ورځې تېرې شوې.

په څلورمه ورځ وختي یو کس د ژباړونکي سره ګډ راغی، کسان په ډوډۍ خوړلو بوخت وو، هغوی هم ډوډۍ خوړلو ته ننوتل او کسانوته یې و ویل:

ټول دلته یاست؟

ټولو و ویل:

هو صیب!

بیا یې و ویل:

د چای نه وروسته ټول یوې خوا راټول شئ، څه مهمې خبرې له تاسو سره شریکوم.

ټولو و ویل:

ketabton.com - The Digital Library


سمه ده!

هغوي لږ لږ پر څوکیو کښېناستل.

کسان یو، یو به د ژباړونکي میز ته راغونډېدل، تر څو چې ټول راغونډ شوو.

بیا کس د کسانو نومونه و لوستل، ټول کسان حاضر وو.

ژباړونکي و ویل:

اوس ټول خپلو کوټو ته لاړ او بکسونو مو راواخلئ، وګورئ چې څه مو له یاده و نه اوزي (پاتې نه شي)، بیا لاندې ودانۍ مخې ته ودرېږئ.

هغوي و ویل:

سمه ده!

څو دکیکې وروسته، ټول ودانۍ لاندې راغونډ شوو.

بیا یو بس راغی او ودانۍ ته نږدې ودرېد.

ژباړونکي و ویل:

تول دې بس ته وخېږی او خپل و سایل هم د ننه کړئ.

کسان ژر، ژر بس ته وختل، ژباړونکی او لاربښود هم بس ته وختل.

بیا لاربښود د بس چلونکي ته و ویل:

مونږ د اورګاډي (ریل) ستېشن ته و رسوه.

چلونکي و ویل:

ketabton.com - The Digital Library


په سترګو!

بیا ګاډی یې چالان او د اورګاډي ستېشن خوا یې حرکت وکړ.

څه ځنډ وروسته ګاډی د اورګاډي ودانۍ ته و رسېد، بیا مسول کس علي او څه نورو زده کړیالانو ته و ویل:

د تاسو اورګاډی تیار دی، خپل بکسونه او کڅوړې مو راواخلئ چې تاسو واګونونو ته وسپارم او وروسته د نورو کسانو سره به بل اورګادې ته منتظر پاتې شم.

علي او نورو زده کړیالانو خپل وسایل واخیستل او مسول کس هغوی ته د اخیستل شوي ټکټ په مرسته، هغوی یې واګون ته د ننه او خپلو ځایونو ته و رسول.

بیا یې هر کس ته ۱۰ روبله پیسې د ښناک او خوراک د پاره ورکړې او هغوی ته یې و ویل:

ستاسو مزل تر خپل ښاره پورې دوې شپې او دوې ورځې دی، البته به تاسو ته بل مسول کس راشي او د پوهنتون لیلي ته به مو وېسي، د پیسو سره مو احتیاط کوئ، تر څو خلاصې نه شي.

الکانو و ویل:

سمه ده!

بیا مسول کس د هغوی سره خدای پاماني وکړه او د اورګاډي واګون نه کښته شو.

دوې شپې او دوې ورځې هغوي په اورګاډي کې مزل وکړ او بیا ټاکلي ښار ته ورسېدل.

ketabton.com - The Digital Library


الته د اورګاډي درېدو سره  بل مسول کس واګون ته د ننه او د لست سره سم الکان يې کښته بيا يې د ټکسي تر تم ځای سره د هغوي ملتيا وکړه.

د ټکسي تم ځای کې دوه کسان نور هم ولاړ و، بيا مسول کس دېرې ، درې  کسان په ټکسي کې ځای پر ځای او د ارتباطي پوهنتون کس سره يې د هغوی شپې خونې (ليلې) ته واستول او خپله د علي او يو بل زده کړيال سره په يوه تکسي کې کښېناست او د ليلې خواته روان شو.

ګړی وروسته الته ورسېدل، بيا يې علي او د بل زده کړيال د شپې خونې مسول ته ور ورپېژاندل او خپله يې خدای پاماني واخيسته او روان شو.

په دې ورځ الته رخصتي وه، د شپې خونې مسول هغوي ته يې د اوسېدو کوټه وښوده، علي او بل زده کړيال  خپل بکسونه او بيکونه ځای پر ځاي کړل، مسول کس هغوی ته د کوټې کلی و سپارې او ويې ويل:

راځئ، زه به تاسو ته طعام خونه دروښيم چې په د بلې ودانۍ په لمړي پوړ کې شتون لري، دلته يوازې د زده کړيالانو د پاره پخلي او په لږو پيسو سره خوراکي شيان اخيستلی شئ، همدا راز د تاسو په شپې خونې کې د هر پوړ په پای کې آشپزخانه هم شته، تاسو کولای شئ، الته په خپله پخلی وکړئ، ورو، ورو به تاسو په هر څه بلد شئ.

علي او بل زده کړيال د هغه نه مننه وکړه، بيا درېواړه، بېرته شپې خونې ته ستانه شوو.

ketabton.com - The Digital Library


ماښام الته د دوي کوټې ته د افغانانو مسول کس راغی او هغوی ته یې لارښونې وکړې.

بیا یې زیاته کړه، دوې ورځې وروسته ستاسو د پوهنتون درسونه پیل کیږي، سبا به زه له تاسو سره د پوهنتون کلینک ته لاړ تر څو تاسو ټول معاینات تکمیل شي، د تصادفي مریضۍ په صورت کې تاسو ته د روغتون عاجله شمېره هم درکوم، په داسې حال کې به د شپې خونې مسول تاسو سره مرسته وکړي.

علي مننه وکړه او مسول کس د هغوی نه تر سهاره خدای پاماني واخیسته او خپل کوټې ته روان شو.

سهار وختي هغوی کلینک ته لاړل او په دوې ورځو کې یې ټول معاینات بشپړ کړل، بیا یې د سلامتۍ راپور واخیست او د پوهنتون مسول ته یې وسپاره.

دوې ورځې وروسته علي خپل پوهنتون ته لاړ او الته یې خپلې رشتې پوهنځی و مومه کوم ته چې له ورایه ورپېژندل شوی و.

د هغه ځانګه د ودانیو د اوبو او بد رفت (کانالیزاسیون) پوهنځی و، بیا علي پوهنځي ته لاړ او په ټولګي کې یې نوم لیکنه وکړه.

په ټولګې کې یې خورا ډیر کسان او بیلابېلو ملکونو څخه وو، په ټولګي کې یې انجونې خورا ډېرې وې.

علي به هره ورځ ټولګي ته د سهار ۸ بجو نه تر ۴ بجو پورې و او د غرمۍ ډوډۍ به یې الته د نورو کسانو په څېر خوړه او مازدیګر به بېرته شپې خونې ته ستنېده.

ketabton.com - The Digital Library


د هغه په ټولګي کې یوه ښکلې روسۍ انجلۍ هم وه، علي به کله ناکله د سترګو لاندې هغې ته کتل، علي به ښه کالي اغوستل او ښه خوشبویه عطر به یې استعمالاوه.

هره ورځ چې به علي هغه انجلۍ لیده، هغه ته به یې سلام اچاوه، هغې به هم د علي سلام ته وعلیکم ویل.

۶ میاشتې تېرې شوې، علي د هغې نه و غوښتل چې د پوهنتون په پارک کې، وروسته تر څلورو بجو و ګوري.

هغې ومنه.

۴ بجو نه وروسته د پوهنتون پارک خوا ته روان شوو، الته پر څوکۍ کښېناستل او پر خبرو اترو یې پیل کړ.

بیا علي ورته و ویل:

ته د هغې لمړۍ ورځ نه زما خوښه شوې یې، غوښتل مې چې دا خبره د ستا سره شریکه کړم.

انجلۍ و ویل:

زما پر زړه هم خوږ لړېږي، مګر ته د افغانستان هېواد څخه یې، چېرته چې جګړه روانه ده او د ورځې څو روسي عسکر الته له مینځه ځي.

ځه نه شم کولای چې ستا سره دوستي او بیا الته لاړه شم.

علي هر څه و ویل، خو هغې بښنه وغوښته، د ځایه پاڅېده او کور خوا روانه شوه.

ketabton.com - The Digital Library


کال تېر شو او علي لمړی کابل بیا مزار ته لاړ.

۱۵ ورځې يې التـه تېرې او د زړه کيسه يې خپل مور ته وکړه، مورې وخندل او هغه ته يې و ويل:

هغه په دري ژبه پوهېږي؟

علي و ويل:

نه !

هغه به ورو، ورو دري ژبه هم ياده کړي.

بيا يې د هغه نه وپوښتل:

ښکلې ده؟

هغه و ويل:

سپينه، مينه ده، ژېړ يې ويښتان او اوچته ده، سترګې يې هم شنې دي.

مور يې و ويل:

هغه له ورايه ښکاري چې افغانه نه، بلکه بهرنۍ ده، دلته به د هغې ژوند ډېر سخت وي، زما په نظر د دې غوړې ښوروا تېر شه، مه ځان په تکليفوه او نه هغه، دلته به درته کومه انجلۍ وګورو کومه چې له مونږ سره ګذاره وکړي، مونږ چېرته او خارجيان چېرته؟

علي و ويل:

ته زما د پلار سره خبرې وکړه، بيا ما ته احوال راکړه.

ketabton.com - The Digital Library


مور یې و ویل:

سمه ده!

مور یې د شپې د علي پلار سره خبرې وکړې، هغه هم نا راضي وه، هغه د افغانستان د خلکو ژوند او سیاسي ستونزې په ګوته او د هغې و غوښتل چې علي دې ترې تېر شي، هغوی نازدانه خلک چېرې کولای شي زمونږ سره ژوند او ګذاره وکړي.

هغې و ویل:

سمه ده!

زه به یې پوه کړم.

سهار مور یې علي ته و ویل:

ستا پلار هم په دې کار نا خوښه دی، هسې ځان ته ستونزې مه جوړوه.

علي څه و نه ویل.

دوې ورځې نورې هم تېرې بیا علي کابل ته راغی او د بېرته تګ ټکټ یې واخیست او خپل ښار ته لاړ.

پوهنتون لا نه شروع شوی، خو هغه به هره ورځ الته ته، تر څو هغه انجلۍ وګوري.

بله ورځ یې هغه نا ببره په مټرو کې ولیده او هغې خوا ته لاړ، لمړی یې هغې ته سلام ورکړ، هغې هم دعلي سلام ته وعلیکم و ویل، بیا علي ترې وغوښتل تر څو خبرې ورسره وکړي.

ketabton.com - The Digital Library


هغې ومنه او دواړه د مترو نه د بانې او پر يوې څوکۍ کښېناستل.

علي د خپل تګ او راتګ کيسه هغې ته وکړه او زياته يې کړه چې ورته يې سوغات هم راوړی او په شپې خونې کې دی.

علي و ويل:

دوې ورځې وروسته درسونه پيل کېږي، زه به ستا سوغات درکړم.

انجلۍ مننه وکړه، له ځايه پاڅېده، علي نه يې خدای پاماني واخيسته او کور خوا ته روانه شوه.

دوې ورځې وروسته علي وختي ټولګي ته لاړ او سوغات يې ښه پېچلی وه، تر څو نور ټولګيوال پرې پوی نه شي.

څو دکيکې تېرې شوې، علي د ټولګي دروازې خوا ته ولاړ او د انجلۍ انتظار يې کاوه، انجلۍ هم راورسېده او د علي سره يې ستړي مشې وکړه، علي ژره ورته سوغات وړاندې کړل، هغې هم سوغات واخيست او دستکول ته يې د ننه کړ، بيا يې د علي نه مننه وکړه او ټولګي ته ننوته.

وختونه تېرېدل او د دواړو په زړونو کې مينه هم ډېرېده، خو علې په سوچ کې ژوند تېراوه، ځکه يوې خوا ډانګ بلې خوا پړانګ و.

دوه کاله تېر او علي د هغې نه وغوښتل چې ورسره واده وکړي، خو هغې يو شرط کېښود دا چې، که چېرې علي دلته پاتې کېدای شي د انجلۍ فاميل به موافقه وکړي، مګر افغانستان کې ژوند کول به هغې ته نا ممکنه وي.

ketabton.com - The Digital Library


علي هر څه کوښښ وکړ، خو ګټه يې ونه کړه، نه د علي فاميل او نه هم د انجلۍ فاميل راضي نه وو.

کال بل هم تېر شو.

علې انجلۍ ته د واده کولو او الته اوسېدو وړانديز وړاندې کړ.

انجلۍ و منه او دوې ورځې وروسته هغوي رسمي ادارې ته (زکس) ته لاړل، الته ادارې علي ته فورمه ورکړه چې وطن ته يوسي او الته يې ډکه بيا دې بېرته راوړي.

علې و منه او فورمه يې واخيسته او دواړه د انجلۍ کور ته روان شوو، الته د انجلۍ مور وپوښتل:

څنګه مووکړل؟

علي و ويل:

فورمه مې واخيسته او مياشت وروسته وطن ته ځم، الته به يې ډکه، تصديقونه به پرې ولګوم او بيا به ټول مخصوصه ادارې ته لاړ شو.

مور يې و ويل:

سمه ده!

څرنګه چې تاسو خوشحاله ياست.

انجلۍ چای راوړ او ټولو په خوند سره چای و څښه، بيا علي خدای پاماني واخيسته او شپې خونې خوا روان شو.

مياشت پوره شوه او علي د هېواد ټکټ واخيست او بر سبا يې لمړی تاشکند (تاشکنت) او بيا کابل ته الوتنه وکړه.

ketabton.com - The Digital Library


شپه يې خپلوانو کره وکړه او په سهار يې مزارشريف ولايت خوا حرکت وکړ، نږدې ماښام ښار ته ورسېد، هغه په ټوله لاره کې سوچونه وهل.

بس ټاکلي اډې ته ورسېد، مسافرين په کوزېدو شو،علي هم د بس نه کښته، تکسي يې ونيو او کور ته روان شو، لږ ځنډ وروسته کور ته ورسېد، دروازه تړلې وه، هغه دروازه وټکوه، وروروو يې دروازې ته راغی او دروازه يې خلاصه کړه.

د علي پر ليدو ډېر خوشحاله او د هغه سره يې روغبړ وکړ.

علی روغبړ نه وروسته کور ته د ننه شو، د کور نورو غړ د علي په ليدو سره خوشحاله او دروازې خوا يې منډې کړې.

ټولو د علي سره روغبړ وکړ، بيا لويې خونې ته د ننه شو، په دې وخت کې پلار يې هم ورسېد، علي هم د هغه لاسونه ښکل کړل، بيا هغه پر يوې توشکې کښېناست، خبرې اترې پيل شوې.

علي بيا خپل کورنۍ سره د فورمې ډکولو او واده خبره شريکه کړه، مور او پلار يې هر څه هغه ته و ويل چې تر بهرنۍ ښځې تېر شي، خو هغه ونه منه.

ډوډۍ وخوړل شوه او چای هم وڅښل شو، ورو ورو شپه پخه او هر يو خپلې کوټو ته د خوب له پاره لاړل.

علي هم خپلې کوټې ته لاړ او بيده شو، سهار وختي له خوبه پاڅېد او چای څښلو نه وروسته د فورمو ډکولو د پاره له کوره ووت.

فور مې يې ډکې او تصديقونه يې پرې ولګول، بيا ماښام کور ته لاړ.

ketabton.com - The Digital Library


لس شپې یې په کور کې تېرې او بیا کابل او وروسته تاشکنت ته ورسېد، یوه شپه یې په تاشکنت کې وکړه او په سهار یې د خپل ښار ټکټ واخیست او ټاکلي ښار ته لاړ.

د اوایی ډګر نه راسآ د انجلۍ کور ته لاړ، الته ټول په کور کې وو، ټولو د علي په رسېدو سره خوشحاله او د هغه سره یې روغبړ وکړ.

بیا علي له بکس نه سوغات را ووېستل او پر کسانو یې و وېشل.

بیا یې فورمې هم د کڅوړې را و وېستې او انجلۍ ته یې ښکاره کړې، انجلۍ هم ډېره خوشحاله شوه او د علي نه یې مننه وکړه.

ورځ تېره او شپه شوه، پر سبایې فورمې د واده اړونده ادارې ته یوړې.

د ادارې د خوا دوې ورځې وروسته د سهار په نه بجو هغه ته د نکاح وخت و ټاکل شو او مسول کس علي ته و ویل:

ته، انجلۍ د انجلۍ مور او پلار او دوه کسه شاهدان هم در سره راوړه.

علي و ویل:

سمه ده!

علي د انجلۍ کور ته روان شو او الته یې کیسه انجلۍ ته وکړه،

هغه هم خوشحاله شوه او د شاهدانو په لټه کې شوه.

علي یو شاهد د خپل د کوټې ملګری او انجلۍ هم د خپل د اکا زوی وټاکه.

ketabton.com - The Digital Library


هغوي د خپلو شاهدانو سره وغږېدل او خبره یې پخه کړه تر څو په ټاکلي وخت د واده ادارې ته لاړ شي.

ټاکلي ورځ راورسېده، هغوی د واده ادارې ته ورغلل، څو دکیکې وروسته شاهدان هم ادارې ته د ننه او مراسم پیل شو.

اسناد ولیکل شوو، ټولو په خپل ځایونو کې امضاوې وکړې، بیا د ادارې ټاپې هم  پرې ولګېدې، لږ وروسته یې اسنادو یوه کاپی د انجلۍ ته ورکړل تر څو یې د ځانه سره وساتي.

بیا ټولو د واده ادارې نه مننه وکړه او د ودانۍ نه د باندې شو، د باندې د علي  د خسر شخصي موټر ولاړ کوم چې ګل پوښ شوی و.

بیا ناوې او شا په موټر کښې کښېناستل او د انجلۍ کور خواته روان شوو، د علي د کوټې ملګری او څه نورو کسانو تکسې موټر ونیول او د ناوې پسې روان شوو.

څنډ وروسته د انجلۍ کور ته ورسېدل، الته څه نور دوستان یې هم په انتظار وو، ټول کور ته د ننه او د خوشحالۍ محفل تیار شو، تر ناوخته یې بدلې او سندرې په ټېپ (رادیوکسټ) کې ایښودي او ټوکې ټکالې هم روانې وې.

شپه پخه شوه، دوستانو د سوغاتونو په ورکولو سره د علي او انجلۍ نه خدای پاماني واخیسته او خپلو کورونو ته روان شوو.

څه وخت تېر شو او درسونه بیا پیل شو، علي څه چاکلېټ واخیستل او له ځانه سره یې ټولګي ته یوړل، التة یې پر ټولګیوالو و وېشل او

ketabton.com - The Digital Library


ټولو ته يې د خپل د واده خبر خپور کړ، ټولګيوالو هم هغوی ته مبارکی او د ښه او خوشحاله ژوند غوښتنه وکړه.

کال وروسته علي د خپلې ښځې سره مزار شريف ته لاړ، علي خوشحاله او ښځه يې خپه ښکارېده، ځکه د دواړو هېوادونو تر منځ ډېر تفاوت وو.

هغوی البته ډېرلږ وخت تېر او بيا بېر ته تاکلي ښار ته لاړل، البته د انجلۍ مور او پلار ډېرې پوښتنې وکړې، هغې و ويل:

افغانستان کې ژوند ډېر تريخ او زما د پاره اوسېدل خطرناکه او ښه نه دي، بايد علي دلته پاتې شي.

علي و ويل:

زه به کوښښ وکړم تر څو په کابل کې يو اپارتمان ونيسم او دواړه به د فاميل نه جلا ژوند وکړو.

علي به کله د انجلۍ او کله به په شپې خونې کې پاتې کېده، له ځانه سره به يې سوچونه وهل، ورځ تر بلې به په هېواد کې حالات بدلېدل.

کال تېر او علي خپلې زده کړې بشپړې کړې، بيا هغه هېواد ته ستون شو،هغه په ډېرو واسطو او زاريو باندې په ملي امنيت کې عسکري و مونده او هر چا ته به يې خپل اسنادونه ښودل او ويل:

زما ښځه بهرنۍ ده، زما سره بايد مرسته وشي، لږ ځنډ عسکری نه بيا هغه صاحبمنصبي و منه او لږ راحته شو، بيا يې د اپارتمان غوښتنه وکړه، امنيت هم هغه ته يو اپارتمان د امنيت په بلاکونو کې په لمړي پوړ کې ورکړ، دا بلاکونه د تهيې مسکن د بلاکونو په يوې څنډه کې وو.

ketabton.com - The Digital Library


علي اپارتمان ښکلی جوړ فرشونه، رنګه ټلويزيون، الماری او نور شيان کوم يې چې د بهر نه له ځانه سره راوړي و، تنظيم کړل.

څه موده وروسته يې رخصت واخيست او خپل خسر کورته لاړ، بيا يې ښځې ته د اپارتمان عکسونه او نويو خبرو زېری ورکړ.

هغه چنداني خوښه نه وه، بيا علي ترې وغوښتل چې کابل ته راشي او نوی حالت د نږدې نه وګوري.

هغه يې په عذر او زاريو کابل ته راوسته او څو هفتو ژوند نه ستړې شوه، هغه د خلکو په خبرو نه پوهېده او په لاره کې چې د علي سره به ګرځېده، هر چا به ورته کتل او ويل:

هغه وګوهره!

هغه وروسۍ ښځه ده!

بله ښځه پرې قاته وه چې روسۍ يې کړې ده.

چا به يوه او بل چا به بله خبره کوه.

برېښنا هم نه وو.

علي مجبوره شو چې جنراتور وپېري.

بيا به يې جنراتور روښانه کاوه.

ژوند ورځ تر بلي تريخېده، پای هم نا څرګنده و.

علي هم په کابل کې خوشحاله نه وه.

ketabton.com - The Digital Library


هغه خدای، خدای کول چې د هېواده پښې سپکې کړي، خو دنده يې ډېره مهمه وه او هغه نه شو کولای چې دنده پرېږدي او له هېواده سفر وکړي.

مياشت تېره او ښځه يې ناروغه شوه.

اخوا دېخوا يې ډاکترانو باندې وګرزوه، دوايي يې ورته وکړه، خو هغه روغه نه شوه.

بيا هغه عريضه وليکه او د فتر نه يې وغوښت چې هغه ته اجازه ورکړي چې د دوې هفتو د پاره بهر ته لاړ شي.

دفتر کې يې ډېرې واسطې وکړي، په عذر او زاريو يې رخصت واخيست.

بيا هغه د خپلې ښځې سره بهر ته لاړ.

التبه يې دوايي وکړه او جوړه شوه.

مياشت تېره شوه.

علي خپلې ښځې ته و ويل:

اوس ته ښه شوې يې، څه وخت بېرته کابل ته ځو؟

هغې و ويل:

بس ده!

زه نوره کابل ته نه ځم.

د هغه ځای اوا ډېره ککړه ده.

ketabton.com - The Digital Library


بیا ناروغه کېږم.

الته برېښنا هم نه شته، د دښمنانو راکټونه هم شاوخوا لګېږي.

ژوند الته ډېر تریخ دی.

دلته په ټلویزیونو کې راز، راز تبصرې کېږي.

پلار او مور مې هم زما په ژوند الته خوشحاله نه دي.

هغوی زما په هکله ډېر سوچونه او تشویش کوي.

بیا علي و ویل:

سمه ده!

زه هم نه غواړم چې هېواد ته لاړ شم.

باید یو څه وکړو.

دلته خو کاروبار هم نه شته.

بیا د هغې ښځې و ویل:

زما څه خپلوان په تاشکنت کې او سېږي او ښه تجارتي کارو بار لري، ښه به وي چې الته لاړ شو او د هغوي نه مرسته وغواړو، تاشکنټ د افغانستان ګاونډ هېواد دی، که اوضاع ښه شوه بیا به کابل ته لاړ شوو.

علي و منه او د ښځې نه یې مننه وکړه.

د شپې یې خپل پلان د خسرو او خواښې سره ګډ کړ.

هغوی هم و منه  او ورته یې و ویل:

ketabton.com - The Digital Library


ښه پلان دی.

تاسو دې خدای خوشحاله لري.

بیا علي له خپلې ښځې و غوښتل چې موضوع دې له خپلوانو سره شریکه کړي.

هغې و منه او خپلوانو ته لیک ولیکي او علي ته یې و ویل چې د پوستې له لارې یې الته ولیږي.

سهار وختي علي لیک واخیست او پوستې ته یې ورکړ، بیا بېرته ښځې کور ته روان شو.

څو ورځې وروسته د لیک ځواب ورسېد او په هغه کې لیکل شوي و.

تاسو راشئ ، مونږ په خدمت کې یوو.

پر سبا یې هغوي خپل کالي ټول او د الوتکې ټکټ واخیست.

د انجلۍ مور او پلار هم د هغوی سره تر ډګره لاړل، هغوی ماسپښنين تاشکنت ته الوتنه وکړه.

د تاشکنت په اوایي ډګر کې د انجلۍ خپلوان ولاړ وو.

هغوي دواړو ته ښه راغلاست و وایه او له ځانه سره یې کور ته یوړل.

الته یې څو ورځې د هغوي قدر او عزت وکړ.

بیا یې هغوي په کار وګمارل.

ketabton.com - The Digital Library


علي اوس هم په تاشکنټ کې دی، کله نا کله په فیسبوک کې ظاهر کیږي، د خپل فیسبوک حساب یې قلف (لاک) کړی، مګر مالومه نه ده چې ښځه یې هم ورسره ده که نه؟

آیا ماشومان لري که نه؟

پاي

ketabton.com - The Digital Library


## د چاپ شویو کتابونو لیست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتیوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجنیری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

ketabton.com - The Digital Library


۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

ketabton.com - The Digital Library


۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجنیری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکي مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپېته ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او انجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
۶۰. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
۶۱. دخاخکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

ketabton.com - The Digital Library


٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / خمچه های ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ

ketabton.com - The Digital Library


٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توري چشمې (عینکې) پښتو ناول
١٠٥. د چک ولسوالی نه (٩) برجه کلا
١٠٦. د یوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول)
١٠٧. ښکلا (پښتو ناول)
١٠٨. د نارنج غونډۍ
١٠٩. د چوکې دهقان (بزګر، کروندګر)
١١٠. مشت نمونه خروار
١١١. قلعه برگد عبدالاحمد خان
١١٢. قلعه بلند کلوله پشته

ketabton.com - The Digital Library


..................

١١٣. منار غزنی الهامی برای منار جام
١١٤. د افغانستان تاريخي کلاګانو ته، يوه لنډه کتنه
١١٥. د کونړ (کنړ) کلي والي ودانۍ او وروستۍ زلزله
١١٦. در آرزوی انجنير شدن
١١٧. پانه ژېړه شوه (پښتو ناول)
١١٨. ټوکې، ټکالې
١١٩. روسی اینګور

ketabton.com - The Digital Library


**د کار لاندې کتابونو لیست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

ketabton.com - The Digital Library


**د وخت او امکان په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

ketabton.com - The Digital Library

# Russian Bride

Written by:

PHD Architect Hashmatullah Atmar

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*